# سلو کالو یواځېتوب

## د هسپانوي ژبې ناول

## جبریل گارسیا مارکې

## ۱۹۶۷م چلپ

ژباړه او خلاصه
صفیه حلیم

## پېژندنه

د هسپانوي ژبې نامتو کیسه، " د سلو کالو تنهاي یا اڅیتوب" جبریل گارسیا مارکې په ۱۹۶۷ م کې ولیکله. دا ناول تر اوسه د نړۍ په ۲۷ ژبو کې ژباړل شوې دې. گارسیا مارکې پخپله په کولمبیا کې زیږیدلې دې و څو نور ناولونه یې هم کښلي دي خو دا یې هغه کلاسیک دی چې زیاتو خلکو لوستې اوستایلې دی.

Ketabton.com

دا د یوې کورنۍ د څو نسلونو کیسه ده چې "بویندیا" نومیږي. د دوي مشر "حوسې ارکیډیو" د "مکونډو" نومې ښار بنسټ ایښې و. د ناول ریښې د کولمبیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

په تاريخ کې مونډل کيږي. په دې غرنې هيواد کې د
اورګاډي د راتګ، د موټر، سينما او د استعمار پر ضد
د خلکو غبرګون او وربانډې د پوځ ډزې او ډليېزې
نې په کيسه کې ځاې شوي دي.

سلو کالو يواځېتوب

ډګرمن آريليانو بويندیا د چارماری ( د ټوپک په ډزو د
وژنې ) لپاره ولاړ و. د هغه راياد شول چې يو
اسپېنين پلار له ځانه سره بيولې و چې يخې ورته
روښاي. هغه وخت په مکونډو نومې ښار کې تول ټال
شل کورونه و. دا ښار د سيند پر غاړه اباد و چې اوبه
يې رڼې او په تل کې به يې سپين هوار کاڼي لکه د
ارغونو ځناورو د اګيو په څېر ښکاريدل. په هغه زمانه
کې دوي د ډيرو شيانو لپاره نومونه نه لرل او کله چې به
په اړه يې چا خبره کوله نو د لاس په اشاره به يې هغه
شی په نښه کوو.
په دې ښار هر کال د پسرلي پر وخت خړو پړو بنجارو
پيښنه وکړه. دوي به د ښار ې څنډې کې خپله کيږدۍ
ـ وهله او د ډول صرنا په بدرګه نوي ايجاد شوي
توکي به يې خلکو ته د ننداريې لپاره يښودل. په لومړي
، دوي مقناطيس راوړې و او د دې ډلې يو مشر چې
ځان يې د "ملکيداس" په نوم وروپيژندلو، اعلان وکړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې دا د نړۍ اتمه عجوبه وه. کله چې ده د اوسپنې
ټوټې او نور شیان د مقناطیس په دې دوو تورو ټوټو
راښکل نو د کلي مشر "حوسې" فکر وکړو چې په دې
به د زمکې لاندې پټ سره زر راکش کړي. خو
ملکیداس ایمانداره سړې و. ده ته یې وویل چې متاسفانه
مقناطیس سره زر نه راکاږي. د حوسې بیا هم باور نه
کیدو او ملکیداس ته یې دوه وزې او یو یابو په بدل کې
ورکړل او د مقناطیس هغه دواړه ټوټې یې له بنجاري نه
وپیرلې. د ده میرمنې "اورسلا" ډیره هڅه وکړه چې
سړی د خپلې سودا نه راوګرځوي خو میړه یې خبره
وونه منله. بیا دی ټول کال مقناطیس په لاس د زمکې له
تل نه شیانو په ویستلو بوخت و، ان تر دې چې سیند کې
یې هم ازموینه وکړه. خو هلته نه د پینځلسمې پیړۍ یو
جنګي زره پوښ یې وموندلو.
په بل پسرلي کې بنجاري بیا راغلل او دوي ته یې
دوربین او محدب عدسه (هغه شیشه چې واړه توکي پکې
لټ ښکاري) او ورپسې کلونو کې پرکار او د زمکې د
کچ آله راوړل. حوسې دا هر څه ترې پیرلي و او د
شپې به یې کله په هغه دوربین د اسمان ستورو ته کتل او
کله سپوږمۍ ته. له ده د کور کارونه پاتې و او له هغه
راهیسې یې ځان سره د خبرو کولو په مرض اخته شوې
و. یو وخت د ده نایابه توکي دومره ډیر شول چې د
کور شا ته یې یوه بیله کوټه ورته جوړه کړه. حوسې به

(c) ketabton.com: The Digital Library

ﻪ دې کوټه کې د نويو توکو او تيزابونو د ګډولو تجربې کولې. د کور نورې ټولې چارې د اورسلا پر غاړه وې چې پرزمکه يې ترکاري کرله او کله يو څو څاروو په ساتنه يې ټبر ته ډوډۍ پيدا کوله.

ملکيداس بنجارى به د خپل پړاو پر وخت د دوي کور ته ډير راتلو او نورو ملکونو ته د خپلوسفرونو کيسې به يې په خوند ورته کولې. د حوسې زوې "آريليانو"هغه خت د پينځو کالو و او په دې کيسو به يې تلوسه پيدا شوه. د ده مشر ورور "آرکيډيو" نيمې پيړۍ وروسته هم خپلو نمسو ته د هغه وخت کيسې کولې. د ملکيداس مخ د يو زوړ ړي په شان ګونځې لرلې او غاښونه يې هم پورا نه و. د هغه له کيسو داسې معلوميده ې دې څو وارې د ډېرو بدو ناروغيو او وباګانو سره مخ شوې او روغ ترې پاتې شوې و. د اورسلا د ده نه ښه نه راتلل او د ميړه سره يې تل په دې ناندرۍ وهلې چې خپله شته منې يې د بنجارې په خوشې شيانو بايللې وه.

د بل پسرلي په راتګ دا د کلي په ټولو کورونو وګرځيده چې خلک د بنجارو پر ضد اوهڅوي. خو هغه کال د بنجارو ډله چې په ډمامو غږولو راغله نو د کلي خلک په هيړه د دوي لوې خيمې ته ورغلل او هلته هک پک ودريدل. د م اس د مخ ګونځې هوارې وې او د ده غاښونه هم پورا وو چې اوس يې ټولو ته په خندا ربښکاره کول. د کلي خلکو ته هغه د بلې دنيا سړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکاره شو او ورسره يې هيڅ جګړه ونکړه. وروسته ملکيداس چې د خپل ملګري حوسې سره يوځای شو نو د مصنوعي غاښونو حال يې ورته وويلو. د بنجاري ډلې له تلو وروسته حوسې به ناکراره د کلي په کوڅه کې ګرځيدو او يوه ورځ خپلې مېرمنې اورسلا ته يې وويل، " د دې سيند نه وراخوا دومره نوي شيان دي چې مونږ ترې خبر هم نه يو. مونږ څه د خرو په شان ژوند کوو؟"

د حوسې ارکيډيو بوينډا ميرمنه اورسلا د ده ترله ( د تره لور) وه او دوي په کولمبيا کې د ""ريوهاچا"" نومې ښار نه کډه کړې ه چې ښه ژوند او نوې کور ځان له جوړ کړي. د ي سره ځو نور خپلوان هم مله و خو حوسې ته د زمکې د پراختيا او د دې د جغرافيې په اړه هيڅ معلومات نه و. له دې هم خبر نه و چې دا ملک ځومره لوې و. د "ريوهاچا"سره جوخت يو غر و او دوي چې ترې واوړيدل نو ه مزل يې وکړو. په دې سفر کې يوه شپه دوي د سيند پر غاړه تم شول. په هغه شپه حوسې په خپل خوب کې د "مکونډو" نومې ښار وليدو. دا ښار د هندارو نه جوړ و چې پکې ټوله نړۍ ښکاريده.

د ې ښار په هغو شلو کورونو کې د ده د ټبر خلک اوسيدل او حوسې به تل د زمکې له کرکروندې او د څاروو د ساتنې په اړه هر چا ته مشوره هم ورکوله او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورسره لاس يې هم کوو. ده پخپل لاس ډېر شيان جوړول او داسې لومې جالونه او کوړکۍ يې جوړې کړې چې په لږه موده کې خلکو پکې رنګا رنګ مارغان ونيول. د دې مارغانو شور به دومره و چې خلکو به د ليرې نه دې ښار ته تلونکې لاره ومونډله.
حوسې پخپله هم ځوان و او په مکونډو کې اوسېدونکې هم ټول ځوانان و. هېڅ وک هلته د ديرشو کالو د سن نه لوړ نه و. د ښار د بنسټ ايښودو راهيسې دلته څوک نه و مړه شوي نو ځکه هديره پکې نه وه. په دې توګه مکونډو يو خوشاله ښار و. اوس چې حوسې د بنجاري له خوا راوړل شويو ايجاداتو کې ځان بوخت کړو نو بڼه يې واوخته. ده به نه جامې بدلولې، نه يې ږيره خريله او کله کله به ترې ډوډۍ هم هيره شوه. اورسلا به ورته په قهر وه خو پام به يې پرې کوو.
حوسې په دې فکر کې و چې سيند به د دې ښار چاپيره راتاو شوې وي خو د بنجارو په تګ راتګ ثابته شوه چې داسې نه وه. د مکونډو په ختيځ کې هم هغه غرونه و چې بلې غاړې ته يې د دوي پخوانې ټاټوبې "ريوهاچا" پروت و. دی د بنجارو له خلې خبر شو چې د دې ښار جنوب لوري ته پراخ دلدل و چې بل سر يې دوي هم نه و ليدلې. هم دغسې په لويديځ کې د هغې نه هم لوې دلدل و چې يو سر ته يې سيند بهيدو. خو هغه سيند هم دومره لوی و چې پکې به کشتۍ روانې وې. حوسې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې معلوماتو پر اساس فکر وکړو چې متمدنه نړۍ به د
ځمکونډو په شمال کې وي. خپلو هغو ملګرو ته چې
لومړي سرکې ورسره راغلي وو، د تګ لپاره وویل. په
ټولو یې د ښکار او د ځنګلونو د پاکولو آلات وویشل او
پخپله یې د بنجارو نه پيرلي قطب نما، نور الات او یوه
نقشه په خلته کې کیښودله او دا د ډلې په شکل د مکونډو
شمال لوري ته روان شول.
دوي په ګڼو ځنګلونو کې د سفر نه وروسته کله چې یوې
شګلنې زمکې ته راورسېدل نو یوه هسپانوي بیړۍ یې ولیده
چې ډېره پخوانۍ او ویجاړه پرته وه. د بیړۍ شته والي
ورته خبر ورکړو چې سمندر له دوي ډېر لیرې نه و.
دوي څلور ورځې نور هم پلي وړاندې ولاړل نو
سمندر یې ولیدو. حوسې ډېر مایوسه شو ځکه ده پر
خپل اند په یو ټاپو د ځمکونډا ښار اباد کړی و. ده د
ځمکونډو ښار جغرافیاي نقشه پخپل لاس کښلې وه چې
چار چاپیره یې اوبه وې.
دا ډله چې بیرته راغله نو حوسې د بنجارو له خوا پیرل
شوي ټول شیان د لرګي په صندوق کې بند کړل او
میخونه یې ورکې ټک وهل. دی دوه ورځې په دې کار
بوخت و. بیا یې په مکونډو کې نورو میشتو خلکو ته
وویل چې دوي به دا ځای پرېږدي ځکه دا د هغه د
خوبونو ښار نه و. د ده خبره هیچا وونه منله نو حوسې
په قهر شو او د خپل کور تمبه یې بیله کړه. اورسلا تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغې ورته څه نه و خو په دې کار يې ترې وپوښتل
ې دی څه غواړي. حوسې ورته وويل، " که نور
خلک نه غواړي، نو ه دې راځي، مونږ ه دې ځايه کډې
کوو" اورسلا ورته وويل، " مونږ هيچرته نه ځو، دلته
مو يو زوی زيږيدلی دی" حوسې ورته وويل، " ستا
خبره سمه ده خو تر اوسه مونږ هديره نه لرو چې مړې
مو پکې خښ وي. خلک د خپلو مړو لپاره ځای نه
پرېږدي" اورسلا وويل، " که داسې ده نو زه به خپل
ځان ووژنم چې دلته هديره جوړه شي"
د حوسې دويم زوی "آريليانو" لومړی ماشوم و چې په
مکوندو کې وزيږيدو. په هغه پسرلي کې چې دی د پلار
سره د يخی ليدو لپاره د بنجارو تمبو ته ورغلی و نو دې
د پينځو او د ده مشر ورور د څوارلسو کالو و.
آريليانو د ماشومتوب راهيسې هر څه ته به ځير و، د ده
بل عادت دا و چې زيات وخت به خاموشه و. يوه ورځ
اورسلا په پخلنځي کې انغري نه د تودې ښوروا لوښی
پر يز ايښی و چې درې کلن آريليانو ناره کړه " دا لوښی
غورځيږي" اورسلا وليدل چې هم هغه شيبه لوښی
راولويدو او په زمکه دانه وانه شو. هغې خپل ميړه ته
دا خبره ياده کړه خو حوسې ته دا د پام وړ خبره نه وه.
کله چې اورسلا د تگ نه انکار وکړو نو حوسې خپل
شيان بيا د صندوق نه راوويستل او د زامنو په مرسته
يې بيا خپل "ليبراتوار"سم کړو. له هغې وروسته به

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواړو ملشومانو ټوله ورځ هم هلته ورسره تیروله. دوي ته به یې د لیک ولوست سره د شمیرو او په دیوالونو ځلي نقشو کې ځایونه په نښه کول.
په هغه پسرلي کې د ډمامو د غږ سره ټول د بنجارو په راتګ خبر شول خو دا نوي ډله وه او ملکیداس ورسره نه و. حوسې د خلکو په ګڼه ګوڼه کې یو سپین ږیری ته ورغلو او د هغه له خلې خبر شو چې ملکیداس مړ شوې و. حوسې په دې خبر دلګیر شو خو زامنو یې ټینګار کوو چې په لویه خیمه کې ورته دیو (دېب) ښکاره کړي. دوي د ننداریې لپاره پیسې ورکړې او وردننه شول. هلته یو غټ سړی چې ټټر یې په ږېښتو پوښلی و ولاړ و. هلته د شیشې په شان یوه لویه څلورګوټیزه تیږه ایښې وه چې د لمر وړانګې ترې راتمبیدې او هر رنګ ټکې ښکاریدو. ځ یخی په لیدو د حوسې له خلې یو مزوري غږ راووتلو، " دا د نړۍ تر ټولو لوې الماس دې" دیو په زوره وویل، " دا واوره (یخی) ده. آرکیډیو ې له دې چې ځان ږهه کړي ، ورته لاس وغځوو نو دیو وویل، " د لاس اوړلو ږ به پینځه ریاله نور راکړئ" ږي په ژوند چرې یخی نه وه لیدلي او کله چې ورته لاس یوړو نو وې ویل، " بې شکه، دا د دې پیړۍ تر ټولو لویه اختراع ده"
ځ مکونډو ښار د جوړیدو کیسه هم ډېره عجیبه وه.
حوسې او د اورسلا کورنۍ په یو کلي کې د خپل لوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تېر سره اوسيدل چې له پيړيو هلته ميشت و. په دې
تېرکې به مدام پخپلو کې ودونه کيدل چې په نتيجه کې
معيوب ماشومان زيږيدل. اورسلا ويريده چې د حوسې
سره د واده له کبله به د دې اولادونه هم ...وب وي ځکه
هغه د دې د کاکا زوې و. د هغې يوه ترور د حوسې په
تره واده شوې وه او د دوي زوې چې وزيږيدو نو د
...رکوزي په شان لکۍ يې لرله. له واده وروسته
اورسلا دومره په وېره وه چې حوسې ته به نږدې نه
ورتله. د کلي ځوانانو به حوسې پورې خاندل چې له
...نځې ويرېږدو. يوه ورځ دوي چرګان جنګول او د
حوسې چرګ په بل چرګ زوره ورشو. کوم کس سره
چې حوسې چرګ جنګوو، ورله پيغور ورکړو چې د ده
چرګ هم تربنه مېړنې و او ډېر زر هغه ناندرۍ په
جګړه واوختې. حوسې هغه ځوان په چړه ووژلو او
کور ته ولاړو.
اورسلا د ميړه غوښتنې ته سرټيټ کړو خو هم هغه
راهيسې حوسې به هره شپه خوب ليدو چې وژل‌شوی
سړی د دوي په کوټه کې ګرځي. له دې کبله دوي د
کلي د پريښودو هوډ وکړو. ...تېرنور غښتلي کسان هم
ورسره مله شول او څوارلس مياشتې وروسته دوي د يو
سيند پر غاړه تم شول. حوسې د شپې خوب وليدو چې
دی يو ښار کې ګرځي چې د کورونو په ديوالونو يې
هنداري لګيدلې وې. ده له خلکو د ... ې ښار د نوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنه کوله نو "مکوندو" به یې ورته یاد کړو چې پخوا دا نوم یې چرې نه و اوریدلې او نه یې څه مانا لرله. ده هم هلته د سیند پر غاړه د مکوندو نومې ښار د ابادولو فیصله وکړه. خو تر اوسه یې د هندارو تعبیر نه و موندلې. بنجاري په خیمه کې د یخې د لیدو نه وروسته یې چرت وهلو چې د اوبو غوندې ویړیا شي نه ه یخې جوړکړي نو دا ِ به پرې څوکاله شي.

د حوسې کشر زوې آریلیانو به کله کله د پلارسره د ده په لابراتوار کې د کیمیا تجربې کولې خو مشرې زوې آرکیډیو به پخپل حل مست و. دی س د ځوانۍ په درشل کې و او لوړه ونه یې لرله، نور غړي یې هم قوي و او غبړ یې مات شوې و. د مکوندو په کډوالو کې یوه ښل کلنه جینۍ "پیلارترینا" نومیده چې مورپلار ځان سره په زوره راوستې وه اوکله نا کله به یې د خلکو پال کتلو.

د حوسې میرمنه اورسلا اوس د دریم ځل لپاره میندواره وه او یوه ورځ ترینا ته یې وویل چې د دې پال دې وګوري. هغه چې د دوې کور ته راغله نو په آرکیډیو یې سترګې ولګیدې. هم هغې راهیسې د دواړو تر منځ د ینې اړیکې جوړې شوې او د یو بل سره یې په پټه لیدل. په خپل کور کې ارکیډیو ته هغه وخت هم د ماشوم په سترګه کتل کیده. یوه شپه د اورسلا لور وزیږیده او پخوا له دې چې بل وک د دې کوټې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورغلې وی، هغې ژر ژر د ماشومې غړي وکتل چې معیوبه خو نه وه. دا ماشومه روغه وه او د هغې زړه ږامه شو. د ښار خلک ورته امبارکۍ ته راغلل او ماشومې ته امرنتا (امارنتا) نوم ورکړې شو.
یوه ورځ د کلي په میله کې ترینا آرکیډیو ته خبر ورکړو چې د دې په خیټه کې د هغه ماشوم و. هغه د دې خبرې په اوریدو اندیښمن شو. د هر کال په شان د بنجاري ډلې په راتګ ټول خلک د دوي په ننداړو اخته شول. دا ځلې ې ډلې سره یوه ځوانه جینۍ هم وه چې آرکیډیو پرې مئین شو او دواړه له مکونډو نه ېتښتیدل. اورسلا چې خبره شوه نو زوې پسې هم هغه لاره یې ونیوله چې بنجاري ورباندې تللي و. هغ ې هڅ وهلو چې بنجاري به ډېر لیرې نه وي تللي او دا به خپل زوې د هغوي نه ېبرته وګرځوي. خو دا له مکونډو دومره لیرې راوتلې وه چې بیرته نشوه تلې او پینځه میاشتې ورکه وه. د ځلوېښتي ماشومه امرنتا خپل پلار په ورځ کې شپږ وارې مړوله، دا به ولمبوله، او بیا به یې ورته سندرې وئیلې. آریلیانو به خپلې ماشومې خور لپاره د لوبو شیان جوړول.
یوه ورځ اورسلا بې له دې چې زوې یې موندلې وی، بیرته راغله. خو د دې په غاړه نوي جامې وې او دا خوشاله ښکاریده. حوسې ورته هرکلې وویل نو مېړه یې ه لاسه ونیولو او کړکۍ ته یې بوتلو. حوسې ولیدل چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کوڅه کې د بیګانه خلکو یوه ډله ولاړه وه. دا خلک بنجاري نه وو دوي د مکونډو د خلکو په څیر و. هم د دوي ژبه یې ویله او ورسره په یابوګانو او خرو د خواړو شیان بار و. د دوي په ګاډیو کې د کور سامانونه او لوښي لرګي ایښي و چې د راتلو سره یې په خلکو وپلورل.
اورسلا ټولو ته خبر ورکړو چې دلدل نه وراخوا د دوو ورځو په مزل نور ښارونه وو. د دې نوي او لنډې لارې د موندلو سره مکونډو ښار ته د خلکو تګ زیات شو او د نورو سیمو وګړو هم پکې د میشت لپاره کورونه جوړ کړل. خوسې ته د ښار د مشر په سترګه کتل کیده او نویو راتلونکو هم ورته درناوې کوو. د نویو ودانیو او د لارو کوڅو د جوړولو پر وخت به یې له ده پوښتنه کوله او د ده مشوره به یې منله.
څو میاشتې وروسته د ترینا زوې ووزیږېدو چې هغې یې پخپله د پاللو نه ډډه وکړه او دا ماشوم یې اورسلا ته پرېښودو. ماشوم ته د خپل ورک پلار آرکیډیو نوم ورکړې شو او د اورسلا د لورامرنتا سره یو ځاې یې روزنه پیل شوه.
د نورو ښارونو نه د راتلونکو په ډله کې یوه ګوجره ښځه هم د خپل ورور سره راغلې وه. ... ي د بې خوبې له وبا یوې وبا نه راتښتیدلي و. اورسلا هغې ګوجرې ته د ماشومانو د ساتنې کار وسپارلو او پخپله د خوړو نه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

رنگا رنگو شیانو په جوړولو بوخته شوه. هغې به
خوړو ته د ړل ډول ځناورو او د ښاروو شکل ورکوو
او دا رنګین خواړه به یې پلورل چې زیات مشتریان یې
ملشومان وو گوجرې بنځې به کله کله وړاندوینې کولې
او یوه ورځ یې وویل، " یو نوې کس به دې کور ته
راځي آریلیانو ترې پوښتنه وکړه چې دا به څوک وي
نو وې ویل چې خبره نه ده خو راتلونکې په لاره را
روان و. د دې په بله ورځ د څرمنو یو سوداګر د
حوسې کور ته د یولسو کالو یتیمه جینۍ راوستله چې
ربیکا نومیده. سوداګر د یو کس له خوا لیک حوسې ته
ورکړو چې پکې د ې جینۍ په اړه لیکلي و. دا د
اورسلا د لیرې خپلوانو نه وه چې مور پلار یې په وبا
کې مړه شوي و. حوسې نه یې هیله څرګنده کړې وه
چې د خپلوي په درناوي ورته دا یتیمه ورلیږي او دا به
د خپل اولاد په شان ساتي.
د جینۍ سره یو د لرګي صندوق چې پکې د ې خو شیان
و، یوه ځنګیدونکي څوکۍ او په یوې بوجۍ کې د دې د
مور او پلار هډونه و. حوسې او اورسلا نه پوهیدل چې
ې ماشومې سره څه وکړي خو هغه یې هم تر خپلو
وزرو لاندې ونیوله. ربیکا به په ځنګیدونکي چوکۍ
کښیناسته او خپله کټه ګوته به یې ژووله. هغې څو
ځې هیڅ وونه خوړل او تولو سره ویره پیدا شوه چې
د ولوږې مړه نشي. بیا ګوجرې معلومه کړه چې ربیکا

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دیوالونو **خاوره** او چونه ښتې او په انګړ کې له ځمکې لمده خاوره خوري. اورسلا په دیوالونو مرچکي ولګول او په ځمکه یې خوشاي وشیندل خو ربیکا **منع** نشوه او پټه به شوه. کله به یې ځان په تشناب کې بند کړو او هلته به یې دیوال ښتلو. دا چې هرې خوا ته تله ، هډوکو بوجۍ به یې ځان پسې راښکله. په دې غږ ، دومره ناارامه شول چې یوه ورځ یې ترې دا بوجۍ په یوګودام کې پټه کړه. **اورسلا** د هغې ماشومې لپاره یو ښځوانې **درمل** تیار کړو. د نارنجو اوبه او رواش یې **سره** ګډ کړل چې ټوله شپه پرخې **(شبنم)** ته ایښي وو. سهار یې دا په زوره ربیکا ته ورکړل او . ځو ورځو په ښلو یې **دا** ه شوه. اوس به دې سمه ډوډۍ خوړله او د نورو ماشومانو په پرتله د اورسلا سره یې زیاته مینه کوله.

لږ وخت ؛روسته په مکونډو ښار کې هم د بې خوبۍ وبا ګډه شوه. خلکو به کرۍ شپه ویښه تیروله خو په نتیجه کې دوي کارونو له زور ورکړې و او ټول به د خوب پر وخت هم په کار**ونو** بوخت و. په پایله کې دوي دومره ډېر کار وکړو چې د څه کولو ورته نه و پاتې. هغه ټول خلک چې د مکونډو نه نورو ځایونو ته ورتلل، باید **د لارو** کوڅو نه تیریدو پر وخت یې یو زنګ غږولې وې چې روغ خلک پرې خبر شوی **وی**. په ښار**وو** کې د تم ډو پر وخت دوي ته د خوراک ښاک اجازه نه وه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه اوس په دې کې هيڅ شک نه و پاتې چې دا
ناروغي ساري وه او له خلې يې يو بل ته يې کډه کوله.
ځلته د خوارو ټول توکي د بې خوبۍ په وبا ککړ و.
ډجرې ښځې ويلي و چې بې خوبي پخپله بد شی نه و
خو د دې اغيزه به د انسان په دماغو کيده او د هيرولو
مرض به يې پيدا کوو. د حوسې په دې خبره باور نه
راتلو خو ځو ورځې ورسته د ده په ليبراتوارکې يو شې
پکار و او نوم يې ترې هير شو. د شيانو نومونه به يې
له ياده ووتل، تر څو چې د لاس په اشاره يې ورښودلې
نه وې. آريليانو پخپل کور کې د هر يو شي د پاسه په
کاغذ د هغې نوم وليکلو. د حوسې دا کار خوښ شو او د
ښار د خلکو ته يې هم په کورونو کې داسې ليکلې ليبل
ه شيانو ونښلول.
د بې خوبۍ دا وبا د ښار په خلکو کې ويره پيدا کړه. خو
يوه ورځ د حوسې بنجاره ملګرې ملکيداس چې ده يې د
مړينې خبر تر لاسه کړې و، مکونډو ته راغلو. حوسې
حيرانه هم و او خوشاله هم. له ده يې پوښتنه وکړه چې
څنګه بيا راژوندې شو. ملکيداس ورته وويل، " په مړ
حالت کی مې ځان ډير يواځې احساسوو"
ملکيداس د راتلو سره د بې خوبۍ د علاج لپاره يو دارو
جوړکړل او دا وبا پاې ته ورسيده. ده يو نوی مشين
حوسې ته ورښکاره کړو چې د لرګې په دريو پښو
ينښودل شو. د حوسې د کور ټول غړي مخامخ ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ودریدل اوشیبه وروسته د ـِي ځبرې په نقره پوښلي د مسو پر یوه تخته راښکاره شوې. دا نوې مشین د حوسې او د آریلیانو په زړه کې ولوله پیدا کړه چې دوي هم یو لوې مشین جوړ کړي. آریلیانو س ځوان و خو هم هغسې د خلکو لیرې د خپل پلار په لیبراتوار کې به په کار بوخت و. ده د ټقرې نه شیان جوړول او ډېرې خبرې به یې نه کولې. په دې لیبراتوار کې اوس مېکیداس هم ورسره کښیناستو او د یوې صحیفې په لوستلو به یې ورځ واړوله چې نااشنا ژبه ورباندې لیکلې وه.

مکونډو ښار ته به کله نا کله یو سپین ږیرې هم پیښنه کوله چې سندرې به یې وئیلې. د خلکو په اند د ده عمر دوه سوه کاله و او هر وختې به له یو ښارنه بل ته تلو. د ده په سندرو کې به د نورو ځایونو د خلکو معلومات وو. د دلدل نه وراخوا د "مانوري" ښار د خلکو او دغسې د نورو کسانو په اړه شعرونه به یې زمزمه کول. که چا غوښتل چې نورو ښارونو کې خپلوانو ته یې خپل حال لیږلې وې نو ده ته به یې پیسې ورکړې نو شعر به یې ورته جوړ کړو. د بې خوبۍ د وبا پر وخت دا سړې مکونډو ته نه راتلو او بیا ډېره موده وروسته یې پیښنه وکړه نو اورسلا د ده سندرو ته غوږ ونیولو چې د خپلې آرکیډیو د حال نه ځان خبر کړي خو د هغه پر ځاې د خپلې مور له مړینې خبره شوه. هغې اوس د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خواړه د جوړولو سره سره د پخلنځي په داش (تنور) کې د ډوډيو او د کلچو پخولو په کار هم لاس پورې کړې و. دا هر څه به خلکو سهار وختي ترې وپلورل او په بله ورځ به يې نورې کلچې او کيکونه جوړ کړل. د کلچو غوښتنې د ډيرېدو سره هغې به تولـه شپه داش تود ساتلې و. اورسلا ځان دومره بوخت کړې و چې د وخت په تيرېدو هيڅ پوهه نشوه. يوه ورځ يې انګڼ کې جرې ښځې ته د خمبيرې جوړولو کار سپارلې و او له ګرکۍ يې وليدل چې دوه پيغلې هلته ناستې وې او په ټوکر يې ګلونه ګنډل. دا امرنتا او ربيکا وې چې په رو څو کلونو کې يې ماشومتوب شا ته پرېښې و. اورسلا د خپلو کلچو او کيکونو په کاروبار کې دومره بوخته شوه چې د وخت په تيريدو هيڅ پوهه نشوه او يوه ورځ يې احساس وکړو چې ماشومان اوس لوې و او که ودونه يې وکړل نو هغه کور به ورته وړوکې شي او دوي به ترې کډه وکړي. هم دا وه چې د بويندا کور د پراخولو په کار يې لاس پورې کړ. د دوي سره زمکه ډېره وه نو څو نوې کوټې او دالانونه يې پکې ورزيات ړل. په هغو ورځو کې مکونډو ته ډير نور خلک راغلل" د مرکزي حکومت استاځی يو قاضي چې مسکوټي نوميدو، د خپلې کورنۍ سره راغلې و. ده اورسلا ته يو ليک ورواستوو چې خپل کور ته بايد نيلا رنګ ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې خبرې په اوريدو حوسې دومره په قهر شو چې د قاضي مسکوتې کور ته ولاړو او د ، ته يې وويل چې مکونډو يو خپلواکه ، و او هيڅوک خلکو ته د خپلې خوښې پرته په کارونو نشي مجبورولی. د دې خبرې سره يې هغه قاضي په زوره له دې ښاره وشړلو. څو ورځې تيرې شوې نو قاضي مسکوتې د خپلې کډې سره بېرته راغلو او دا وار وسله وال کسان هم د ده د ساتنې لپاره ورسره مله و. حوسې ورسره خبرې وکړې او وې ويل چې که دې مکونډو کې اوسيدل غواړي نو بايد د ښار د قانون درناوی وکړي. په دې توګه هغه له قاضي اختيارات واخيستل. د مسکوتې يوه ميرمنه او ا ، و لونې وې او د حوسې د زوې اريليانو د هغه تر ټولو کشره لور "رميدوس" خوښه شوه چې هغه وخت د نهو کالو وه.

ده خپله خبره چا ته نه کوله خو په دې وخت کې ده د ترينا سره له نږدې مينه کوله او يوه شپه د خپل زړه خبره يې هغې ته وکړه. کورنی يې خبره شوه نو ټولو ، ه وويل چې نورې جينکی ښکلې او ځوانې وې او ده کولې شول چې په هغوي کې د يوې سره يې واده کړی وی خو اريليانو وويل چې دې به د هم هغې ماشومې سره واده کوي. اخر مسکوتې يې په دې راضي کړو چې رميدوس ورته په نوم کړه چې کله پيغله شي نو ورته به يې واده کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اورسلا د نوي كور لپاره نور سامانونه راوړل او يو پيانو يې هم راوغوښتله چې د دې برخې په بيلا بيلو صندوقونو كې بندې وې. د هغو برخو د يو ځاې كولو لپاره يو اطالوي ځوان "پيټر كريسپي" راوبلل شو. دواړه امرنتا او ربيكا په هغې ايټالوي ځوان مئينې شوې.
ربيكا خو دومره اغيز منه شوه چې يو وارې بيا د خپلې كتې گوتې د ژوولو او د خاورې او خټې د خوړلو عادت ته يې مخه كړه. اخر پيټر مجبور شو چې د ربيكا د مينې ځواب په مينه وركړي او امرنتا ناهيلې شوه. د دوي دواړو د واده فيصله ووشوه خو امرنتا خبردارې وركړې و چې دا به هغوي واده ته نه پرېږدي او كه داسې ووشول نو هم هغه وخت به مړه شي.
د دې ټولو پيښو پر وخت ملكيداس بنجاره مړ شو خو تر هغې په مكونډو كې هديره نه وه او دا د هغه ښار لومړې مړې و. حوسې د خپل ملگري د وصيت پر ځاې كولو لپاره تر دوو ورځو د ده مړي ته پاره (سيماب) سيزله. بيا په يو ځاې كې يې ورته قبر وكيندلو او دې يې پكې خښ كړو. د قبر د پاسه د ده د نوم شناختې ودرول شو او د ده د ماتم نه وروسته د حوسې په كور كې يو څه ارامې راغله.
اريليانو نهه كلنې رميدوس سره هره ورځ ليدل او هغې ته به يې ليک لوست ور ښودل. په دې وخت كې ترينا اعلان وكړو چې د دې په خيټه كې د اريليانو ماشوم و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوهغه بيا هم د رميديوس ېرې ګرانه وه او ترينا ته يې
زيات پام ونکړو. ربيکا او کريسپي دواړه کويږدنشول
خو د حوسې چلند د تولو د اندېښنې وړ وګرځېدو. ه له
ډېرې مودې د يوې لوې ېمرې د جوړولو هڅه کوله
چې د خداې عکس پرې واخلي او تر هغې بريالې شوې
نه و. بيا يې د يوې لوې زانګو په جوړولو لاس پورې
کړ چې د نړۍ هر شې ورباندې ځنګيدې شو ړو په دې
کې هم کامیابه نشو. اخر ه ده به د ليونتوب څپه راغله.
ه به د هغه سړي مړې ليدو چې خپل پخواني ټاټوبي
کې يې وژلې و.
يوه ورځ هم دغسې د مړي سره يې خبرې کولې چې په
قهر شو او خپل ليبراتوار يې تباه کړو. حوسې غوښتل
چې خپل کور ته هم اور ورته کړي خو شلو کسانو نګ
کړی و چې هغو شو را قابوکولې. اخر دې يې د يوې
ونې سره وتړلو او هم هلته به يې ورته خواړه ورکول.
اورسلا د ونې سره ورباندې يو څپر جوړ کړو چې د
لمر او باران نه پټ وي.
کله چې رميدوس بلوغت ته ورسيده او د شپې په کټ کې
متيازې يې هم بندې شوې نو د آرېليانو سره يې واده
کړه. رميدوس د نورو ټولو جينکو نه هوښياره او پوهه
راوختله. هغې به د ونې سره تړلي د حوسې خدمت د
ربېکا او د امرنتا نه زيات کاو. هغې د خپل مېړه او د
ترينا ناجايز زوې هم لکه د خپل ماشوم ساتلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خوسې به تېر کې ټول د هغې نه خوشاله وو او اریلیانو فکر کاو چې د ده د ژوندي پاتې کیدو جواز د هغه مېرمنه رمیدوس وه. خو یوه ورځ هغه د خېټې په درد اخته شوه او ناڅاپه مړه شوه. وروستو دوي خبر شول چې د هغې به خېټه کې دوه ماشومان د یو بل نه تاوشوي وو.

دې مرګ د خوسې ټول تبر تر ډېرې مودې ماتم کوو او د ربېکا او د کریسپي واده ځنډېدو. دا واده یو وارې اندې هم ځنډېدلې و ځکه امرنتا دا وړاندیز کړې و چې په مکونډو کې لومړی کلیسا جوړېده او باید هغه واده د کلیسا د پرانستې په ورځ شوې وی. خو د ونډو کلیسا د یو پادري نیکډور تر څارنې لاندې جوړیده چې درې کاله وخت یې ونیولو. ربېکا اوس ډېره ناهیلې شوې وه خو د هغې نېکمرغي یا بد مرغي ورته ووایه چې هم په هغو ورځو کې د خوسې او د اورسلا مشر زوی ارکېډیو بېرته راغلو. دی په دومره زور سره د کور په پونیو را وختلو چې ټولو د زلزلې ګومان وکړو. ډېر دنګ او هیڅ ادب یې نه لرلو. هغه د ټولې نړۍ چاپېره په سمندر کې ۶۵ ځلې ګرځېدلې و او د راتلو سره یې د مکونډو په ښځو کې لکه د یو فاحش سړي چلند پیل کړو او د جنس په بدل کې به یې ترې پېسې اخیستې. د خوسې تول تبر د ارکېډیو نه ځرکه لري خو ربېکا ورپسې لېونی وه. د ده د راتلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره ربېکا ورسره سملاسته او ارکېډیو د هغې چنغول کرېسپي ته آعلان وکړو چې د خپلې چنغلې نه دې لاس واخلي. ـ‍ـې ورځې وروستو ربیکا او ارکېډیو واده وکړو. اورسلا په دې دومره په قهر شوه چې دواړو ته یې وویل چې بیا به د دې په درشل قدم نه ږدي. سره له ـ‍ـې چې د پیټرکرېسپي بې عزتي شوې وه، هغه ډېر په ـ‍ـزت امرنتا ته د مینې لاس وغځاو.

آریلیانو د خپلې میرمنې د مړینې نه وروستو د ښځو نه ځان ګوښه کړو خو د خپل خسر قاضي مسکوټې سره به ـ‍ـ تګ راتګ کاو او د قطعو لوبه به یې ورسره کوله.

د هغه سره به خبرو کې یوه ورځ خبر شو چې د دوي په سر دوه ګوندونه حکومت کوي چې یوه یې محافظه کارګوند و چې قاضي یې پلوي کوله او بل لبرال ګوند و.

د محافظه کار ګوند د بډو رشوتونو په لیدو یوه ورځ اریلیانو خپلو ملګرو ته په خبرو کې وویل چې که د ده نه چا پوښتنه وکړه نو په لبرال ګوند کې به ځان شامل کړي. ـ‍ـغو ملګرو دی د یو ډاکټر ته وروپېژندلو چې پخپلو انقلابي مفکورو اریلیانو ته یې د تشدد د سیاست لاره وښودله.

ـ‍م هغه زمانه کې جنګ پیل شو او د محافظه کار ګوند پوځ مکونډو ـ‍ه راننوتو او د ښار چارې یې په خپل لاس کې واخیستې. ـ‍ـې د جبر او د زورنې تګ لاره خپله کړه او مکونډو کې وېره خپره شوه. اریلیانو چې د دوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ظلم او جبر ته په قهر و، د ځپلو ۲۱ ملګرو سره د پوځ
پر ضد بغاوت وکړو ، جنګ یې ورسره پیل کړو. کله
چې دوي بریالي شول نو یو لبرال پوځ یې جوړ کړو
چې مشر یې اریلیانو پخپله‌شو او ډګرمن لقب یې غوره
کړو. په مکوندو کې د امن راوستلو دنده د دې پوځ په
غاړه وه.
خوا د کرېسپي او امرنتا تر منځ اړیکې په ښه کیدو
شوې او د دوي خوشالي په لیدو د ټولو توقع وه چې د یو
بل سره به واده وکړي. اخر یوه ورځ کرېسپي د واده
لپاره امرنتا ته لاس وغځوو خو هغې ډېر په ظالمانه ډول
ورته انکار وکړو. د هغې له زړه دا خبره نه وه وتلې
چې د ربیکا لپاره یې د دې مینه رد کړې وه او پېغور یې
ورله ورکړو.
کرېسپي خپل زیار ویستلو چې امرنتا راضي کړي خو
هغې به ورسره په سمه خله خبره نه کوله. اخرکرېسپي
دومره ناهیلې شو چې خپل ځان یې ووژلو. امرنتا چې
خبره‌شوه نو ځان یې ملامته ګڼلو او خپل لاس یې په
اور کې وسېزلو. د زخم د پاسه هغې یوه توره پټۍ
وتړله چې تر مرګه یې په لاس وه.
اخوا ارکېډو د لبرال ګوند مهم غړي شو. دی د قدرت
په نشه کې دومره مست و چې بې ځایه او احمقانه خبرو
امر به یې وکړو. خپل پلار ارکېډیو بویندو ته یې اجازه
ورکړه چې د ګاونډي زمکه واخلي. اورسلا د ده په

(c) ketabton.com: The Digital Library

کارونو د شرم احساس کاوو خو هیڅ به یې نشو وښیلی.
ده ښار یوې ځوانې جینۍ صوفیه سره جنسي اړیکې
جوړې کړې او یوه لور یې وزیږېده. د ده مخه هغه
وخت ښنده وه کله چې لبرال ډلې په جنګ کې ماتې
وخوړه او د محافظه کار پوځ یو وارې بیا مکونډو
ونیولو.
ارکیډیو ونیول شو او نویو چار واکو ورته د مرګ سزا
اعلان کړه. په کومه ورځ چې هغه چار ماري کیدو نو
د ده نه یې پوښتنه وکړه چې د مرګ نه وړاندې د ده
وروستي ارمان څه و. ده وویل چې د ماشومې لور نوم
دې اورسلا شي او که د صوفیه بل ماشوم وزیږېدو او
هغه هلک و نو ورته د حوسې ارکیډیو نوم ورکړې شي.
لبرال ګوند د ماتېدو سره جنګ پای ته ورسیدو او
دواړو غاړو پخپلو کې روغه وکړه.
ډګرمن اریلیانو بویندا د ده د پوځ نږدې ملګری
ګرمن جیرینالډومارکیز دواړه ونیول شول او مکونډو ته
یې لاس تړلي راوستل. اورسلا د ده لیدو لپاره بندي
خانې ته ولاړه او وې لیدل چې هغه د وړاندې نه هم
یواځې ښکاریدو، د ده پر متو او لېچو پرهرونه جوړ
وو. ده ته هم د مرګ سزا ورکړې شوې وه.
ډګرمن آریلیانو بویندیا د چارماری ( د ټوپک په ډزو د
وژنې ) لپاره ولاړ و. د هغه رایاد شول چې یو
ماسپښین پلار له ځانه سره بیولې و چې د بنجارو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

خېمه کې يخۍ ورته ووښاي. ده به تصور کې هغه يخۍ
چې رنګينې وړانګې ترې ځليدې. هغه کسان چې
په ده يې د ټوپک د ډز کولو لپاره په ليکه کې ولاړ و،
دى يې پړ نښه کړی و چې نابېره د ده مشر ورور
حوسې ارکېډيو د خپل لوی ټوپک سره راښکاره شو.
هغو ويشتونکو وسله کېښوده او د ډګرمن اريليانو له
وژلو يې ډډه وکړه. بيا اريليانو بويندا هم هغه کسان د
ځانه سره مله کړ او د يو بل جنګ لپاره ووتل. دا د
اريليانو ۳۲ جګړه وه چې تر هغې يې کړي وو.
په سر کې دوي د ماتې سره مخ شول ځکه د لبرال ګوند
شرانو د ډګرمن اريليانو بويندا پاڅون رد کړو او په
کلکه يې د ده غندنه وکړه. خو هغه په دې ناهيلې نشو
او کله چې "ريوهاچه" نومې سيمه د دوي لاس ته ورغله
نو د ده جنګيالي مکونډو ته بريالي راننوتل.
د حوسې بويندا او د اورسلا د ټبر ټولو خلکو د دوي هر
کلې وکړو. خو دې کورنۍ کې يو وارې بيا د غمونو
ټکه راولويده. حوسې ارکيډيو چې د ګاونډي زمکه يې
به زوره نيولې وه، په مرموزو حالاتو کې ووژل شو.
څوک نه پوهيدل چې هغه ځان پخپله وژلې و او که نا
بل چا ورباندې ډز کړی و. د ده مېرمنې ربيکا خپل
ځان پړ ور کې بند کړو او بيا هيڅوک ترې خبر نشول
چې څه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ده ورور ډګرمن اریلیانو بویندا هم د مرګ سره مخ
و چې یو چا د ده په کافي کې د یو دارو وڅښول. دا
دارو د علاج لپاره کاریدل خو که د اندازې نه زیات چا
کارولې نو یو اس یې په څو ثانیو کې وژلې شو. هغه
طالع من و چې دا یې لږ څښلې وه او ناروغه شو خو
ژوندې پاتې شو. کله چې دی په ناروغه حالت کې
ت و نو ځان سره یې چرت وهلو چې ده د یو هدف
ه جنګ نه کوو بلکه اوس یواځې د خپل غرور د
ساتنې لپاره په جنګ اخته و. ده ته جنګ یوه بې مانا
خبره ښکاره شوه او د هغو باغیانو سره یې د خبرو
لپاره ملا وتړله چې د هیواد په نورو ځایونو کې پراته
وو. غوښتل چې جنګ نه د پایې ټکې کیږدي نو په
ونډو کې یې خپل ملګرې دګر من جیرینالډو مشر
وټاکلو او پخپله ترې ولاړو.
جېرینالډو د امرنتا لپاره د خوښې احساس لرلو خو هغې
ته د زړه خبره یې نشوه کولې. امرنتا هم دی خوښېدو
او په زړه کې ارمان و چې دوي واده وکړي. خو کله
چې هغه ورته د واده وړاندیز وکړو نو امرنتا هم هغسې
انکار وکړو لکه چې کرېسپي ته یې کړې و. جېرینالډو
وربانديې ټینګار وکړو چې دا ورسره خوشاله وي نو په
واده کې څه ممانعت و؟ خو امرنتا د واده خبره نه مني.
ډګرمن اریلیانو بویندا خپلې مور اورسلا ته یوه
وړاندوئینه د پیغام په توګه راواستوله چې پلار به یې ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژر مړ شي. اورسلا خپل مېړه د ونې نه راخلاص کړو او دننه د خوب کوټې ته يې يوړو. هلته به ده توله ورځ د هغه سړي د روح سره خبرې کوي چې په ځوانۍ کې يې وژلې و. څو ورځې وروستو حوسې مړ شو او په هغه ورځ مکونډو ښار د باران د څاڅکو سره ژېړ ګلونه هم وريدل.

هغه وخت د ډګرمن اريليانو بويندا زوی اريليانو حوسې چې د پيلار ټرينا له خېټې زېږېدلي و، د ځوانۍ سن ته ورسيدو. دا هلک امرنتا، چې د ده اما کېږي، رالوې کړي و او د هغې سره ډېر د نږدې والي احساس لري. رنتا د هغه په احساساتو پوهه شي او ځان ترې لرې ساتي چې هلک بې لارې نشي. خو هغه ځوان دومره ناهيلي شو چې د کور پرېښودو فېصله يې وکړه. هغه وخت د ده پلار مکونډو ته راغلې و چې د لبرال او د محافظه کار ګوند تر منځ د روغې په تړون خوشاله نه و. نه غوښتل چې په نورو ملکونو کې د جنګ لپاره ولاړ شي او کله چې روانېدو نو زوې هم ورسره مل شو.

د اريليانو د وتلو سره په مکونډو کې د خلکو حالت ښه شو او د څوکالۍ يوه نوې دوره پيل شوه. دا د محافظه کاره ټلې د هغه ښار وال له برکته و چې "راکوپل مونکاده" وميدو خو د ډګر من اريليانو بويندا نږدې ملګرو نه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حوسې او اورسلا بويندا په کور به په هرو څو ورځو
ې يو ځوان **راتلو** او ځان به يې د اريليانو د زوې په
توګه وروپېژندلو. دوي به د مسيحيت د بپتسمې (په دين
کې د وردننه کيدو رسم) لپاره راتلل او ان تر دې چې
اوولس ځلمي راغلل. دا ټول د ډګرمن اريليانو هغه
اولادونه وو چې د بېلا بېلو سيمو د جنګونو پر وخت د
ده د جنسي اړيکو په نتيجه کې زيږېدلي وو. ټول
ځوانان اريليانو نوميدل او اورسلا په يو وړوکي
کتابګوټي کې د هغوي د ځاې ځاېږي او د مور نوم ليکلو
چې کله يې زوې راشي نو پېدا يې کړي. د ډګرمن
اريليانو سره چې کوم زوې اريليانو حوسې تللې و، په
"نکاراګوا" کې د پوځ نه وتښتيدو او بېرته مکونډا ته
**راغلو**. ده د خپل ځان سره هوډ کړې و چې د امرنتا
سره به واده کوي. هغه چې کور ته را ورسيدو نو
امرنتا پوهه شوه او خبردارې يې ورکړو چې د خپلې اما
سره څوک واده نشي کولې او دا ګناه وه.
دا ځوان د خپل تره ارکيډيو په شان ژوند پېل کړو چې
هيڅ کار به يې نه کوو او د ښار جينکو سره به يې
جنسي اړيکې ساتلې. بيا يوه شپه د يو پاڅون په وخت
دی د يو محافظه کارعسکر له خوا ووژل شو.
ډګر من اريليانو بويندا بېرته راغلو او مکونډو يو وار بيا
د ده لاس ته ورغلو. ده د خپل مشر ورور ارکيډيو
زمکې چې نورو خلکو پرې خېټه اچولې وه، بېرته

(c) ketabton.com: The Digital Library

واخیستې. اورسلا ورته مینت زارۍ وکړې چې د خلکو سره د نرمښت نه کار واخلي او په تېره بیا د خپل ګري ښار وال راکویل ته ـې ښه سړی و او د خلکو لپاره یې ډېر کارونه کړي وو. خو اریلیانو ورته وویل چې په اوږدو جنګونو کې د ده زړه سخت شوې و. هغه ـار وال ته د مرګ سزا ورکړه چې پایلې یې د مکونډو ښار او اریلیانو لپاره داسې وې چې هغه یې توقع نه لرله.

ږاړه ملګري ډګرمن جېرینالډو او اریلیانو په جنګ خپل باور او هیله د لاسه ورکړې و او داسې فکر یې کاو چې د دې هیڅ ګټه نه وه. دوي ته جوته شوه چې لبرال ګوند هم هغسې خاین او بې عقیدې و څومره چې محافظه کار ګوند و. خو په اریلیانو یې ډېر اغېز کړې و او هغه له ـړۍ ګوښه شو. ورځ تر بله هغه په عجیبه کارونو سر شو. ده به هیڅ ډول احساس نه څرګندو او د پلار په شان د هیرېدو مرض ورته پیدا شو. د خپل پوځ په خیانت دی ډېر خواشیني او ځان له به یواځې په سوچونو کې غرق ناست و. هغه د خلکو نه دومره وېزاره شو ـې ځان ته به یې څوک د لسو فټو نه کم فاصلې کې ـدې نه پرېښودو. ـه اوس په دې پښېمانه و چې ښار وال ته یې د مرګ سزا ولې ورکړې وه. هغه هوډ ـړو چې نوربه خلک جنګ ته نه پرېږدي او تر دوو کالو لګیا و چې د خپلو جنګیالو او د محافظه کارو تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

منځ روغه ووکړي. تر دې وخت هغه د هيچا سره د
خوښي يا د مينې احساس نه لرلو او پخپل ټبر کې يې هم
لکه د بيګانه کس په شان اوسېدو. اخر هغه د خپل ژوند
نه دومره ستړې شو چې يوه ورځ په طماچه يې د ځان د
وژلو هڅه وکړه خو مړ نشو او خپل پاتې ژوند د وړو
فلزي مهيانو به جوړولو تېر کړو.
د دوېم حوسې ارکيډيو درې اولادونه د صوفيه له خېټې
زيږېدلې وو چې رميديوس سيګونيدو مشر او غبرګولي
اريليانو سيګويندو او حوسې ارکيډيو سيګويندو نوميدل.
په هغو ورځو کې يوې امريکاي کمپنۍ د کېلې په باغونو
کې په لوې شمېر خلک کار ته رابلل او د کولمبيا ډېر
ځوانان هلته په کارونو بوخت شول. دوي ته به يې
معاش ورکوو خو د کار شرايط يې ناځرګند و. دا
مزدوران به په بد حال اوسيدل او د درملنې چاره يې نه
کيده. سيګندو هم هلته په کار بوخت و او ليدل يې چې د
ی له خوا د دوي زبېښاک روان و. دوي به خپلو
کې سره خبرې کولې او اخر دومره وېزاره شول چې
کار يې بند کړو او کمپنۍ نه يې د ښو شرايطو غوښتنه
وکړه.
کمپنۍ يوه ورځ ټولو کار کوونکو ته په يو ځلور
لاري کې د راټوليدو امر وکړو. کله چې خلک يو ځاې
شول نو د مشين دارو ډزې يې پرې پېل کړې او درې
زره مزدوران ووژل شول. سيګندو د هغې کمپنۍ سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

د فورمېن په توګه کار کوو او هغو ځو کسانو کې شامل
و چې له دې ډزو ژوندی پاتې شو. دی د اعتصاب
ونکو د یوې ډلې مشر و او په یو اور ګاډي کې
کیناستو چې له هغه ځایه وتښتي. ه هغه ګاډي کې په
ووونو مړي بار و چې سمندر کې غورځولو لپاره یې
وړل.
مکونډو ښار ته راغلو چې هلته هیڅوک د هغو وژنو
نه خبر نه وو. هیڅا د ده په خبره باور نه کوو او د
حکومت خبره یې منله چې د مزدورانو اعتصاب په امن
پای ته ورسیدو. حکومت دا هم ویل چې ټول کارګران
خپلو خپلو کورونو ته تللي و. هغې کمپنۍ مشران
بېرته امریکا ته ولاړل او د کېلو په باغونو کار بند شو.
سیګونډو بل ورور د یوې جینۍ پاترا سره مینه کوي
خو واده یې د یوې بلې ښځې فرنانډه سره وکړو چې
ډېره مذهبي وه. هغه پر زمکو ځاروي ډېر شول او
دی هم ورسره ښه شته من شو. د فرنانډ یوه لور مي
مي او زوی حوسې ارکېډیو (دریم) نومیدل.
د مي مي یو میخانیک ماریشیو بابیلونیا سره مینه پیدا
شوه او کله چې پلار یې خبر شو نو یوه شپه په هغه یې
ل ګومان وکړو او ډزې یې پرې وکړې. بیا یې خپله
لور مي مي په بېړۍ کې د راهبانو یو کلیسا ته
ورواستوله. کال وروستو د مسیحي دین یوه راهبه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مکونډو ته راغله چې يو ماشوم هم ورسره و. دا د مي
مي ناجايز اولاد و چې اريلياينو(دويم) نوميدو.
غه ماشوم د بويندا کورنۍ کې زالوې شو خو د هيچا
خوښ نه و. بيا هم دی د فرنانډه د کشرې لور امرنتا
اورسلاسره يو ځاې ژوند کوو او په دواړو کې مينه
پېدا شوه. دوي خبر نه و چې دواړه د بويندا ټبر نه دي.
ا په مکونډو ښار کې پينځه کاله باران ورېدو او د دې
زياتې برخې يا اوبو يوړې او يا وراسته شول.
د حوسې کونډه اورسلا مړه شوه او ورپسې د بوينده د
ـ پخواني خلک پرله پسي له نړۍ سترګې پټې کړې.
امرنتا اورسلا بلجيم ته ولاړه او دويم اريليانو په کور کې
يواځې پاتې شو. دريم حوسې ارکيديو خپل ښار ته بېرته
راغلو او د اواره ځوانانو سره به يې تېوله ورځ لغړ ژوند
تيراو. هم هغوي کې يو کس د ده د پېسو لپاره حوسې
ووژلو.
امرنتا اورسلا د يو پيلوټ سره واده وکړو او بېرته
مکونډو ته راغله. خو يوه ورځ د ده مېړه خبر شو چې
امرنتا د اريليانو سره اړيکې لري نو دا يې پرېښوده او
بېرته ولاړو. ځومره چې د امرنتا او د اريليانو مينه
پخېلو کې زياتېده، هم هغه هومره د ښار حالت په
خرابېدو و. کله چې امرنتا حامله شوه نو بيا هم خبره نه
وه چې د خپل وراره سره يې جنسي اړيکې لرلې. د
ماشوم د زيږېدو پر وخت امرنتا مړه شوه خو ماشوم د

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو سر کوزي په شان ښکی لرله. هغه وخت د مشرې
اورسلا هغه اندېښنه ریښتیا شوه چې په تېر کې یې د
ښکی ماشوم و نه زیږېږي. هم له دې ویرې هغې خپل
ټاټوبې پرېښې او د مکونډو ښار اباد کړې و.
اریلیانو په دې دومره خواشینې شو چې خپل غم یې په
شراب کې د هېرولو هڅه وکړه. کله چې دی د نشې
حالت نه راووتلو نو ورته ماشوم رایاد شو خو تر هغې
لا نوې زیږېدلي ماشوم په زرګونو تورو مېږو(مېږیانو)
خوړلې و.
اریلیانو نور هیڅ نشو کولي او د نیکه په کتابونو کې یې
هغه زړې صحیفې وموندلې چې ملکیداس ورته ورکړې
وې او ورباندې سانسکرت ژبه لیکلې وه. هغه دا لیکنه
وژباړله چې په اصل کې د بویندا تېر تاریخ و. په دې
کې د حوسې د ونې سره و تړل کیدو نه واخلې تر
اوسنې ماشوم په اړه هم لیکلي وو چې مېږو خوړلې و.
کله چې ده هر څه ولوستل نو یوه زوره وره سیلۍ راغله
او ښار په دې طوفان کې ویجاړ شو، څه چې پاتې وو ،
هغه هم ورک شول. هر څه د تاریخ او د انساني دماغو
نه پاک شول، داسې لکه چې هیڅ وجود یې نه لرلو.

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**